د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

علمي معاونيت

د کيفيت د تضمين او لوړاوي آمريت

# د بُست پوهنتون د علمي (اکاډميکي) خپلواکۍ پالیسي

کال: ۱۳۹۹ - وږی (سنبله)

## لړلیک


سریزه ____ أ

ددي موضوع اهمیت او اړتیا ____ ب

عمومي موخه ____ ب

څرګندي موخي ____ ب

لومړی فصل ____ 1

د بُست پوهنتون د علمي خپلواکی پالیسی ____ 1

دوهم فصل ____ 3

په بُست پوهنتون کي د علمي خپلواکی سره مخالف موارد (توکي) ____ 3

دریم فصل ____ 4

په بُست پوهنتون کي دعلمي خپلواکی اړتیاوي ____ 4



BOST UNIVERSITY
BOST

## سریزه

د علمي خپلواکۍ په اړه د لوړو زده کړو بنسټونو د قانون د (۱۱)بند په (۳)ماده کي په صراحت راغلي دي.

د لوړو زده کړو وزارت پدې عقیده دی چي اکاډمیک بنسټونه (پوهنتونونه/د لوړو زده کړو مؤسسې) پرته د علمي خپلواکۍ څخه نسې کولاي چي پرمختګ وکړي. ځکه څلویښت کلني جګړې د لوړو زده بنسټونو (پوهنتونونو/د لوړو زده کړو مؤسسو) علمي خپلواکۍ ته زښت زیات زیان اړولی دی.

په یوه ټولنه کي چي څومره علمي خپلواکۍ ته په درنه سترګه و کتل سي، د علمي خپلواکۍ په مخ کي پراته خنډونه لیري او پراخي سرچیني د روڼ آندي طبقې په ځانګړي توګه استادانو او زده کړیالانو (محصلانو) په واک کي ورکړل سي په همهاغه کچه د تقلید ځاي نوښت او ابتکار خپلوي او په استادانو او محصلینو کي د نویو نظریو، ګټورو او موثرو علمي څیړنو له لاري د ټولني د ودي او پرمختګ په وړاندي د مسولیت احساس را پیدا کیږي.

علمي خپلواکي ددي باعث کیږي چي په علمي بنسټونو (پوهنتونونو/د لوړو زده کړو مؤسسو) او درسي ټولګیو کي د موثرو آزادو بحثونو او خبرو اترو فضا رامځته کړي. د علمي کنفرانسونو وړاندي کولو، علمي سمینارونو په لاره اچولو، زده کړه ایزو ورکشاپونو، علمي څیړنو،د کتاب ویلو (مطالعي) فرهنګ ته د ودي ورکولو او په انټرنیټي علمي سایټونو کي مشغولیدلو، د مقالو او کتاب لیکلو، علمي نیوکي او علمي آثارو شنني او څېړلو او د وخت د غوښتني سره سم د نوي پوهي په تولید کي د ونډې اخیستلو ځاي و اوسي. د لوړو زده کړو په بنسټونو(پوهنتونونو/د لوړو زده کړو مؤسسو) کي دداسي فضا شتون د علمي بنسټونو نه د باندي پر ټولنیزو بهیرونو اثر غورځوي او له مادي او معنوي پلوه د ټولني د پرمختګ سبب ګرځي؛ برعکس که یاده فضا شتون و نه لري او یا هم محدوده وي په ټولنه کي نه یوازي دا چي علم وده او پرمختګ نه کوي ورسره به ټولنه له مادي او معنوي پلوه شاته پاتي سي.

ددي اصل په نظر کي نیولو سره بُست پوهنتون د اکاډمیکي آزادۍ اصل ته په درناوي او د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوني محترم ریاست د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوني د یوولس ګونو معیارونو د ښه تطبیق په پار دغه پالیسي ترتیب کړې ده.

پدې پالیسی کي داسي کړني شتون لري چي درانده استادان او ګران محصلین کولاي سي هغه په خپلواکه توګه د کوم محدودیت پرته ترسره کړي او داسي موارد (توکي) هم پکښې شتون لري چي درانده استادان او محصلین يې په ترسره کولو کي خپلواک ندي او محدودیت لري. پر همدي اساس که علمي خپلواکي په سمه توګه تعبیر او تفسیر سي د درندو استادانو او محصلینو یا په بله معني د علمي ټولني د پرمختګ سبب کیږي؛ اما که چیري علمي خپلواکي په سمه توګه تعبیر او تفسیر نه سي برعکس ټولنه د بربادۍ خواته کشکاږي

## ددي موضوع اهميت او اړتيا

د لوړو زده کړو په بنسټونو (پوهنتونونو/د لوړو زده کړو مؤسسو) کي علمي خپلواکي د ضروري اړتياوو څخه شميرل کيږي او د علمي بنسټونو د پرمختګ باعث ګرځي، په خواشيني سره کله نا کله په علمي بنسټونو کي داسي سرغړوني کيږي چي استاد،محصل او همدارنګه علمي بنسټونه د هغوي په سبب زيانمن کيږي. بنأ دغه پاليسي په پوهنتون کي د علمي خپلواکي د بنسټيز کيدو په موخه ترتيب سويده.

## عمومي موخه

په پوهنتون کي د استادانو او رهبري له لوري د لوړ کيفيت تدريس او څيړنو لپاره د ريښتني علمي فضا رامنځته کولو په منظور د يو قوي هوډ او روحيې پيدا کيدل چي پوهنتون د وخت د غوښتني سره سم د نوي علم په توليدونکي بنسټ باندي بدل کړي.

## څرګندي موخي

1. په پوهنتون کي د علمي خپلواکۍ د مفاهيمو بنسټيز کيدل.
2. په پوهنتون کي د علمي خپواکۍ د مخالفو توکو په نښه کول.

ب

## لومړی فصل

## د بُست پوهنتون د علمي خپلواکۍ پالیسي

پدي پالیسی کي لاندي موارد په پام کي نیول سویدي.

### لومړي ماده

بُست پوهنتون د علمي خپلواکي اصل ته ژمن او ورته درناوي لري. پر همدي اساس درانده استادان او ګران محصلین کولای سي چي د پوهنتون دننه او بهر په ټولو علمي بحثونو او ناستو کي د هر ډول ویري پرته ګډون وکړي.

### دوهمه ماده

علمي خپلواکي په بُست پوهنتون کي د شخصیتونو وده چي د علمي بنسټونو له موخو څخه یوه ده رامنځته کوي.

### دریمه ماده

علمي خپلواکي د علم، پوهي او تربيې د فلسفي او عقلاني ژمنو د لرلو په تړاو د علمي کادر د هر غړي حق تثبیتوي؛ دا کړنه د لوړو زده کړو د سیستم د فکري او عقلاني یو موټي والی په ساتني عام ولس ته خدمت کوي.

### څلورمه ماده

علمي خپلواکي د علمي کادر غړو او محصلانو ته دا حق ورکوي چي خپل نظريات په شفاهي، ليکلي او الکترونيکي بڼه د پوهنتون دننه او بهر د ویري او ډار څخه پرته بیان کړي پدي شرط چي نورو ته د زیان رسولو او شخصیت وژني سبب و نه ګرځي.

### پنځمه ماده

د علمي کادر غړي باید له مسلکي پلوه د اړتیا ترکچې صلاحیت او آګاهي ولري او د لوړو زده کړو د نظام او خپلي تخصصي رشتي پر وړاندي ربشتني و اوسي.

### شپږمه ماده

علمي خپلواکي د علمي کادر غړو او محصلانو ته دا حق ورکوي چي د عامه ګټو په پام کي نیولو سره څېړنه وکړي او د خپلو څېړنو پایلي په آزادانه توګه بیان کړي.

### اوومه ماده

پوهنتون د علمي خپلواکۍ په ساتنه او ملاتړ د علمي څېړنو هغه پایلي چي د ټولني ګټي نه زیانمنوي پرته د سانسور او ایډیټ څخه خپروي.

### اتمه ماده

پوهنتون هیڅ سیاستوال أو چارواکي ته د استادانو په علمي څېړنو کي د لاسوهني او خپلو سیاسي عقایدو او نظریاتو د تحمیل اجازه نه ورکوي

نهمه ماده

پوهنتون د علمي خپلواکۍ پر بنیاد د اداري د پالیسیو او وړاندیزونو سره د علمي کادر د غړو او محصلینو د منطقي او پر دلایلو ولاړ مخالفت او عدم موافقي د نه شتون په تړاو ددوي له دریځ څخه ملاتړ کوي.

لسمه ماده

علمي خپلواکۍ استادانو او محصلانو ته داحق ورکوي چې خداي مکړه که د دوي حق تلف سي او یا هم د بي حرمتۍ په سبب ددوي شخصیت زیانمن سي د تاوان (خساري) طلب او حیثیت د اعادي غوښتنه کولای سي.

یوولسمه ماده

علمي خپلواکي استادانو او محصلانو ته دا حق ورکوي چې د یو کورس (مضمون) د موادو په محتوا کې د کار د بازار د اړتیا مطابق د تغیراتو او تعدیل غوښتنه او وړاندیز وکړي.

دوولسمه ماده

علمي خپلواکي استادانو او محصلانو ته حق ورکوی تر څو یو د بل د نظریاتو پر وړاندي و درېږي او یو بل ته په سالمه توګه چلنج ورکړي او ددې کار په وجهه محکوم، تهدید او و نه رټل سي.

دیارلسمه ماده

علمي خپلواکي د ارزیابی او محصل ته د نومرو د ورکړي د تثبیت په برخه کي د استاد له دریځ څخه پدي شرط چې غیر مسؤلانه، غیر عادلانه او د ارزیابی د معیارونو سره په ټکر کي نه وي ملاتړکوي. د فرد او پوهنتون حق د علمي معیارونو د ساتني په غرض محترم ګڼي.

څوارلسمه ماده

علمي خپلواکي د علمي کادر غړو ته حق ورکوي چې د ورسپارل سوي مضمون د تدرس میتود، د مضمون محتوا ته په کتوسره و ټاکي.

پنځلسمه ماده

محصل ته د علمي خپلواکۍ سره سم دا حق ورکول کېږي چې د هغو پریکړو او تصامیمو په اړه کوم چې دوی ورڅخه متاثره او وړباندي تطبیقیږي خپل نظر څرګند کړي او د تصامیمو په نیولو کي ددوي نظریات په پام کي ونیول سي.

شپاړسمه ماده

علمي خپلواکي محصلنیو ته حق ورکوي چې د نظم او ډسپلین په کمیتو کي غړیتوب ولري او د یادو کمیتو د تصامیمو د روڼتیا په اړه ډاډ ترلاسه کړي.

اوولسمه ماده

علمي خپلواکي محصلينو ته حق ورکوي ترڅو د استادانو د تدریس د کیفیت په اصلاحي ارزونه، د محصل په مټ د اړوند پوهنځی او څانګې په ارزونه کې ونډه ولري.

## دوهم فصل

## په بُست پوهنتون کې د علمي خپلواکۍ سره مخالف موارد (توکي)

نولسمه ماده

علمي خپلواکي د پوهنتون د علمي کادر د غړو د غیر پوهنتوني مجازات او قانون نه د سرغړوني په تړاو ملاتړ نه کوي.

شلمه ماده

علمي خپلواکي د هغو استادانو نه چې یوازې خپل درسي مکلفیتونه ترسره کوي او په پوهنتون کې د نورو مواردو په ترسره کولو لکه: (په کمیټو، غونډو، کنفرانسونو، ورکشاپونو، سمینارونو، د علمي او لابراتواري کارونو په ترسره کولو، په ټولنه کې د پوهنتون د رول، د تدریس او زده کړې په پروسه کې د نوښت، د کیفیت لوړاوي او د دیپارټمنت په چارو کې ونډه نه اخلي او احساس مسولیت نه کوي، ملاتړنه کوي.

یویشتمه ماده

علمي خپلواکي اجازه نه ورکوي چې د علمي کادر غړي محصل تهدید، ازار او اذیت کړي، مسخره کړي او یاهم خپل شخصي افکار او نظریات وربانديي وتړپي (تحمیل) کړي.

دوه ویشتمه ماده

علمي خپلواکي د استاد له لوري د محصل څخه د مضمون د ښه زده کړې او د پوهنتون د اساسي او اکاډمیکو ظوابطو د مراعتولو د غوښتني او مطالبی مخنیوي او مخالفت نه کوي

دروشتمه ماده

علمي خپلواکي ددې تضمین نه کوي چې د علمي کادر یو بې کفایت او نا لایق غړی دې په دایمي توګه د علمي کادر د غړي په توګه پاتې او خپلې دندې ته دوام ورکړي.

څلورویشتمه ماده

علمي خپلواکي د علمي کادرغړي او محصل ته ددې حق نه ورکوي چې د دیپارټمنت، پوهنځي او لوړو زده کړو د بنسټ د اصولو او مقرراتو خلاف عمل و کړي اما ددې حق ورکوي چې غیر عادلانه اصولو او مقرراتو باندې نیوکه وکړي.

### پنځه ویشتمه ماده

علمي خپلواکي د علمي کادر د هغو غړو او محصلانو ملاتړ نه کوي کوم چې د ضوابطو خلاف عمل کوي. ولې دا لازمه ده چې د صریح او شفاف ثبوت د شتون په صورت کې قانوني کړنې ترسره او عادلانه چلند وسي.

### شپږویشتمه ماده

علمي خپلواکي د علمي کادر د هغه غړي ملاتړ نه کوي چې د معقول او مؤجه عذر څخه پرته مکرراً غیرحاضري کوي او یا هم د ورسپارل سوي مضمون او درسي مکلفیتونو د ترسره کولو څخه انکار کوي.

### اوه ویشتمه ماده

علمي خپلواکي د علمي کادر د هغو غړو ملاتړ نه کوي کوم چې د غیرعلمي ناسم چلند او پوهنتون د معقولو پالیسیو نه د سرغړوني او نقض د ادعا پر وړاندي د توضیحاتو ورکولو او ځواب ویلو ته نه حاضریږي.

## دریم فصل

## په بُست پوهنتون کي دعلمي خپلواکی اړتیاوي

### اته ویشتمه ماده

د علمي خپلواکی لاسته راوړل، د علم او پوهي د ودي،څیړیدو او ځلیدو لپاره یو لړ لاندي مادي او معنوي امکاناتو ته اړتیاو لري.

1. د هغو فعالیتونو په وجهه د استادانو محصلینو تشویق په کومو کي چې علمي خپلواکي لیدل کیږي.
2. په علمي خپلواکی پوري تړلو ارزښتونو په نظر کي نیولو سره د پوهنتون د فعالیتونو بررسي.
3. د پوهنتون د رهبری له لوري د داسي فضا پر رامنځته کولو تاکید چې په هغه کي کړني، چلند او افکار وکولاي سي د علمي خپلواکی لپاره ګټوري پایلي ولري.
4. د کتابتون شتون، کتاب، کتابتونو او انترنیتی سایتونو ته د محصلینو د لاسرسي په منظور د کتاب او نورو اړینو امکاناتو شتون.
5. د کتابتون څخه د کتي اخیستونکو لپاره په کابتون کي د مطالعي د مناسب چاپیریال رامنځته کول.
6. د دیپارتمنتونو لپاره په کتابتون کي د اړتیا وړ سرچینو شتون.
7. محصلانو ته د درسونو اړوند مطالعي او څیړنیزو فعالیتونو دترسره کولو او آزادي مطالعي کولو لارښوونه او راهنمایی کول.
8. د کنفرانسونو، علمي ناستو او د علمي پروژو د ترسره کولو په منظور د بحثونو لپاره د اړتیا وړ په تخنیکي وسایلود سمبال تالار شتون.
9. د رشتې (څانګي) اړوند د مجهزو لابراتوارونو شتون.

### نهه ویشتمه ماده

پدې پالیسی کې د ذکر سوو مواردو څخه د استادانو او محصلانو د سرغړونې په صورت کې د لوړو زده کړو د قانون، مقرراتو او لایحو سره سم چلند او پوښنه کیږي.

د بُست پوهنتون د علمي خپلواکۍ پالیسي د علمي خپلواکۍ اصل ته د پوهنتون د ژمنتیا او درناوي په موخه په درو فصلونو (۲۹) مادو او (۹) بندونو کې ترتیب سوي د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي اصلي کمیټی د ( ۰۱ / ۰۶ / ۱۳۹۹ )نېټې په ( ۶۷) گنه غونډه کې تایید او د تصویب په موخه د پوهنتون علمي شورا ته وراندي سوه.

د بُست پوهنتون د علمي خپلواکۍ پالیسي د علمي خپلواکۍ اصل ته د پوهنتون د ژمنتیا او درناوي په موخه په درو فصلونو (۲۹) مادو او (۹) بندونو کې ترتیب سوي د پوهنتو ن د علمي شورا د ( ۵ / ۶ / ۱۳۹۹ ) نېټې په ( ۸۲ ) گنه غونډه کې تایید او د تصویب سوه.